په خلکو کې د کفر دوه خویونه دي چې یو یې د خلکو د نسب پسې سپکې سپورې ویل او بل یې په مړو فریاد کول دي

له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: «په خلکو کې د کفر دوه خویونه دي چې یو یې د خلکو د نسب پسې سپکې سپورې ویل او بل یې په مړو فریاد کول دي».
[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په خلکو کې له دوو کفري او د جاهلیت له خویونو څخه خبر ورکوي چې هغه دوه کارونه دادي: لومړی: د خلکو په نسبونو کې خبرې کول، نېمګړتیاوې یې بیانول او ځان پرې پورته ګڼل. دویم: د مصیبت پر مهال پر تقدیر د ناخوښۍ له امله په لوړ غږ چیغې وهل او یا د ډېر فریاد له امله د جامو څیرې کول.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6361